**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۵ نېټه: ۷/ربیع الثاني/۱۴۴۵ هـ ق | مصادف: ۳۰/تله/۱۴۰۲ هـ ل**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**و بعد:** د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۴/۹/۲۷ هـ ق نېټې د (۴۹) ګڼه متحدالمآل په تعقیب په درناوی سره لیکو:

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۵ هـ ق کال شپږم مجلس د قاضي القضاة او د سترې محکمې د رئیس صاحب په مشرۍ په ۱۹/ربیع الأول/۱۴۴۵ هـ ق نېټه، چې ۱۲/تله/۱۴۰۲ هـ ش نېټې سره برابره ده، دایر شو، چې د یاد مجلس د اجنډاء اومه موضوع داسې وه: ((د ځینو ولایتونو د استیناف محکمو استهداګانې رارسېدلي دي چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

که ابتدائیه محکمې د لعان په قضیه کې د زوجینو ترمنځ په تفریق حکم کړی وي او موضوع د استینافي غور په غرض د اړونده ولایت د استیناف محکمې ته واستول شي، په دې صورت کې، آیا یاده موضوع د اړونده استیناف د جزاء دیوان مربوط کېږي او که مدني دیوان یې د حل او فصل صلاحیت لري؟))

د سترې محکمې عالي شورې محترم مقام د ۱۹/ربیع الأول/۱۴۴۵ هـ ق نېټې، چې ۱۲/تله/۱۴۰۲ هـ ل نېټې سره برابره ده، د (۷) ګڼه تصویب د اومې پرېکړې پر بنسټ د پورتنۍ موضوع په هکله هدایت کړی دی چې پښتو متن یې په لاندې ډول دی:

((دا چې لعان د قذف قایم مقام دی نو په همدې اساس د لعان موضوع د جزاء دیون مربوط کېږي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنی لیکلی هدایت د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو په رڼا کې یې اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.